## د متحدالمال ګڼه (۲۶)- نېټه ۱۴۴۴/۳/۲۳ه ق

د افغانستان اسلامي امارت

ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست

د تحريراتو آمريت

د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۲۶

نېټه: ۱۴۴٤/۳/۲۳ هق

عاجل ☐ عادي ☐ اطمينانيه ☐ ابلاغيه ☐ ساير ☐

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴٤/۳/۹هق چي د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د ميزان مياشتي د ديارلسمي (۱۳) نيټي سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د رئيس محترم الشيخ عبدالحکيم "الحقاني" صاحب په مشرۍ د ستري محکمې د عالي شورا د اعضاوو په ګډون د عالي شورا غونډه دائره شوه چي د ياد مجلس په آجنډا کي نهمه موضوع داسي وه: ((د ستري محکمې مربوطه ابتدائيه، مرافعه، نظامي محاکمو، تميزونو د ديوانونو او مرکزي رياستونو د قضائي منسوبينو او اداري کارمندانو د حاضرۍ د کنترول په باره کي چي څنګه ترتيب وشي؟))

د ستري محکمې عالي شورا د تصويب نمبر (۷) مورخ ۱۴۴٤/۳/۹هق د نهمي پريکړې په اساس، د پورته ذکر شوي موضوع په اړه داسي هدايت وکړ:

((د محاکمو د کاري وخت د تعين په باره کي د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فرمان نمبر(٤۹٤ج۱) مورخ۱۴٤۳/۹/۲هق چي د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر(۱٤) مورخ ۱۴٤۳/۱۰/۲۱هق په توسط ټولو محکمو ته استول شوی، د هغه مطابق، د ستري محکمې د تميزونو، مرکزي ديوانونو، مرکزي رياستونو، د هري محکمې او هر ديوان رئيسان صاحبان مکلف دي چي د هجري لمريز کال په لومړيو شپږو مياشتو کي، د شنبې څخه تر چهار شنبې هر سهار په اتو (۸) بجو او ماپښين په څلورو (٤) بجو او د پنج شنبې په ورځ د سهار په اتو بجو او د ماپښين په يوه بجه، د هجري لمريز کال په دوهمو شپږو مياشتو کي د شنبې څخه تر چهار شنبې د سهار په اته نيمو (۸:۳۰) بجو او د ماپښين په دري نيمو (۳:۳۰) بجو، د پنج شنبې په ورځ د سهار په اته نيمو(۸:۳۰) بجو او د ماپښين په يوه نيمه (۱:۳۰) بجه د حاضرۍ کتاب وګوري.

همدارنګه د روژې په مبارکه مياشت کي د شنبې څخه تر پنج شنبې د سهار په اتو(۸) بجو او د ماپښين په يوه (۱:۰۰) بجه د حاضرۍ کتاب وګوري که د ده مربوط کوم ملګري د سهار په اول وخت کي يا د ماپښين په اخير وخت کي په ټاکلي وخت حاضر نه وي حاضري دي ورته قيد کړي که کوم رئيس داسي ونه کړي نو امارت او الله تعالی ته به مسؤول وي.))

ترتيب کننده: گل احمد نيکزاد مسؤول تحريرات محکمه مرافعه نيمروز